PROPERTY OF ACKU

DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۱۳۳

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یوولسم کال - دویمه دوره، ۱۱۳۳ مه گڼه، پر له پسې ۲۲۰۷ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د تلې ۵ مه - د سې شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق شوال المکرم ۲۹ مه د ۲۰۱۱ د سپتمبر ۲۷ مه

په کابل کې د پاکستان سفیر:

د رباني شهادت د افغانستان او پاکستان لپاره یوه ستره ضایعه ده

په کابل د پاکستان سفیر محمدصادق د یوې خبرپانې په خپرولو سره د استاد رباني وژنه په ټینګه غندلې ده.

د پاکستان سفیر په هغه خبرپاڼه کې چې په همدې اړه یې رسنیو ته لېږلې ویلي:((د پروفیسور برهان الدین رباني شهادت نه یوازې د افغانستان لپاره، بلکې د پاکستان په شمول د ګرد اسلامي امت لپاره یوه نه جبرانېدونکې ضایعه ده . همدارنګه د نومورې شهادت دیو ستر شخصیت ضایعه ده، چې ما ورته ډېر احترام درلوده او هر وخت یې پر ما مهرباني کوله)). **۳مـخ**

اعـــــلان

دویچه ویلي المان ږغ راډیو د واوره اوزده کړه راډیـویي ډرامو دپاره په پښتو او دري ژبو ممثلینو ته اړتیا لري.

د "واوره او زده کړه" خپرونه د آلمان ږغ، د راډیویي ډرامو لړۍ ده چې د بشري حقونـو، چاپیریـال ساتني، کـورنۍ تاوتریخوالي او د ژوند د نورو اړخونو د ښه کولـو پـه اړه د ځوانانو لپاره چمتو کیږي.

دویچه ویلي المان ږغ راډیـو ددې ډرامـو د ۲۰۰ برخـو د جوړولو د پاره په دواړو ژبو پښتو او دري د ۱۲ څخه تر ۷۰ کلنۍ پورې ښځینه او نارینوو ممثلینو ته اړتیا لري.

نور معلومات په دغو انترنیټي پاڼو کې ترلاسه کولای سئ.

www.dw.de/pashto

facebook.de/dw.pashto

د دویچه ویله آلمان ږغ راډیویي خپروني هره ورځ د FM پر څپه ۹۰،۵ په کابل او لنډو څپو په ټول افغانستان کې اوریدلای سئ.

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

ادامهٔ حملات پاکستان را منزوی تر می سازد

در حالی که مسألهٔ وجود و عدم وجود شبکهٔ حقانی در خاک پاکستان، شدت فشارهای واشنگتن بر اسلام آباد را مضاعف ساخته و این پیشامد، وضعیت سیاسی این کشور را به بحران کشانده است، پاکستان دور جدید حملات راکتی به ولایت سرحدی کنر افغانستان را شدت بخشیده است.

روز گذشته مقام های افغانی با اشاره به آغاز دور جدیدی از حملات راکتی از خاک پاکستان، توقف فوری این گونه حملات را خواستار شدند.و نیز، سفیر این کشور را به وزارت خارجه احضار داشتند.

باید گفت که در دور تازهٔ این حملات، بیش از ۳۴۰ فروند راکت در چهار روز گذشته به ولایت سرحدی کنر شلیک شده که اغلب به روستاها و مزارع این ولایت، اصابت کرده که در نتیجهٔ آن تا کنون دو مسجد و ده ها منزل مسکونی آسیب دیده و نزدیک ۵۰ خانواده مجبور به ترک خانه های خود شده اند.

از سوی دیگر، والی کنر ادعا کرده که دستکم یک تن در اثر این حملات تا کنون جان باخته است.

درپی حملات راکتی از خاک پاکستان در جوزای گذشته، دولت افغانستان هشدار داده بود که تداوم این حملات،اعتماد و همکاری روبه رشد دو کشور همسایه را تهدید خواهد کرد.

موضع مقام های دولت افغانستان دربارهٔ حملات جدید راکتی از خاک پاکستان به ولایت کنر نشان می دهد که دولت کابل همچون گذشته بر این باور است که مقام های اسلام آباد از این حملات اطلاعی ندارند و نیروهای نظامی این کشوردر این خصوص،نقشی ندارند.

براساس این دیدگاه، دولت افغانستان انتظار دارد، بر مبنای نص صریح منشور ملل متحد دربارهٔ اصول حسن همجواری واحترام به تمامیت ارضی کشورها، دولت پاکستان مانع از حملات راکتی یا نفوذ تروریست ها از خاک این کشور به افغانستان شود.

البته دولت پاکستان نیز بارها از آنچه "ورود تروریست ها از خاک افغانستان به داخل آن کشور" می نامد، انتقاد کرده است. درجوزای گذشته همزمان با افزایش انتقادهای مقام های کابل به حملات راکتی از خاک پاکستان، دولت اسلام آباد نیز، با احضار یک مقام سفارت افغانستان، اتخاذ تدابیرجدی دولت کابل برای جلوگیری از نفوذ تروریست ها به مناطق سرحدی پاکستان را خواستارشد.

به نظرمی رسد، حملات و نفوذ تروریست ها به افغانستان از خاک پاکستان بیش از آنکه ناظر به افزایش خشونت در منطقه باشد؛ از سوی دیگر، تداوم این روند در حالی که تنش ها در روابط واشنگتن – اسلام آباد رو به افزایش است، می تواند افغانستان را نیز وادار سازد، تا در این راستا هم در عرصهٔ ملی و هم بین المللی گام های جدی تر بردارد که این مسأله می تواند، اسلام آباد را بیش از پیش به انزوا کشیده، ثبات سیاسی اش به مخاطره اندازد. بنابراین، مقام های پاکستانی با درک این موضوع، باید با برداشتن گام های معقول، منطقی و بادرنظرداشت حسن همجواری آنچه که در این مورد لازم است، انجام دهد، تا باشد، با تامین ثبات سیاسی و امنیتی در قلمرو افغانستان، ثبات سیاسی این کشور تضمین شود.

ادامهٔ اتهامات صریح واشنگتن بر اسلام آباد؛ رویارویی دو متحد استراتیژیک

حامد یوسف



رجز خوانی بین اسلام آباد و واشنگتن دو متحد استراتیژیک همچنان ادامه دارد؛ در حالی که امریکا پاکستان را به حمایت از گروه حقانی متهم می نماید و آن را شاخه یی از شبکهٔ استخباراتی آن کشور (آی. ایس. آی) می داند؛ پاکستان با رد این مسأله، می گوید، واشنگتن در افغانستان شکست خورده و بار این شکست را به دوش پاکستان می اندازد. در تازه ترین مورد از این تنش های لفظی و کشیده گی دیپلوماتیک دیروز یک سناتور جمهوریخواه و عضو کمیتهٔ نیروهای مسلح سنای امریکا، پاکستان را تهدید کرد که در صورت ادامهٔ حمایت از تروریزم با هر گزینه یی از جملهٔ اقدام نظامی رو به رو خواهد شد.

سناتور لیندسی گراهام گفت، ایالات متحده باید به پاکستان هشدار بدهد، در صورتی که به حمایت از تروریزم پایان ندهد و اقدامات لازم را هم در پیش نگیرد، با تمام احتمالات رو به رو خواهد شد.

سناتور گراهام که با شبکهٔ تلویزیونی فکس نیوز گفتگو می کرد، افزود: بخشی از دولت پاکستان اقدام به همدستی با تروریستان و اقدام علیه امریکا و افغانستان کرده که این عمل نباید بدون پاسخ بماند و اگر کارشناسان به این نتیجه برسند که امریکا باید در این مورد قاطع برخورد کند؛ در این صورت، دولت از حمایت اکثریت جمهوریخواهان و دموکراتان در کنگره برخوردار خواهد شد.

لیندسی گراهام افزود: پاکستانی ها در کشته شدن نیروهای امریکایی دست دارند و اگر قرار است، آنها از تروریزم به عنوان یک استراتیژی ملی استفاده کنند، ما هم باید تمام گزینه‌ها را مقابل آنها بگذاریم از جمله اینکه راه‌هایی که به ما اجازه می‌دهد، از سربازان و نیروهای خود دفاع کنیم و بهترین راه برای پاکستان این است که با ما همکاری کرده و در مقابل نیروهای تروریستی بایستد.

در همین حال گفته می شود که بعد از هشدارهای مکرر مقام های امریکایی به پاکستان، نیروهای نظامی این کشور در منطقهٔ وزیرستان شمالی به حالت آماده باش کامل درآمده اند.

شبکهٔ العربیه گزارش کرد، مقام های امریکایی پس از حملهٔ اخیر به سفارتخانهٔ این کشور در کابل، تصمیم به حمله به گروه حقانی مرتبط با طالبان گرفته اند.

از سوی دیگر، وزرای پیشین امور خارجهٔ پاکستان خورشید محمود قصوری و شاه محمود قریشی هم به این باور اند، اظهارات و اتهامات مقام های امریکا علیه سازمان استخبارات ارتش پاکستان نشان دهندهٔ آن است که این کشور قصد اقدام نظامی در پاکستان را دارد.

دو رفیق استراتیژیک تا سرحد جنگ:

لبه تیغ انتقاد امریکا از پاکستان این روزها بیش از هر زمان دیگری تیزتر شده است. در این انتقادها دیگر حرفی از ارتباط عناصری در پاکستان با «گروه طالبان» نیست، بلکه همه اتهامها بر محور حمایت پاکستان از شبکهٔ حقانی می‌چرخد.

رابطه میان ایالات متحده و پاکستان هر روز تیره تر از دیروز می شود. بیست و دومین روز از ماه سپتمبر بود که امیرالبحر مایک مولن در جامهٔ لوی درستیز امریکا شانه به شانهٔ لیون پانیتا وزیر دفاع تازه نفس امریکا به کنگره رفت، تا در خصوص چند و چون شبکهٔ حقانی که عملیات اخیر ضد امریکایی در کابل را ترتیب داده بود، توضیحاتی بدهد. این دو مقام امریکایی در دیدار با هموطنان خود در کنگره تعارف را کنار زدند و تاکید کردند که شبکهٔ حقانی بازوی دستگاه استخبارات پاکستان مشهور به آی. اس. آی است. این بدگویی ها تنها به ظاهر بازی خلاصه نشد. در دیدارهای خصوصی مابین مقام های امریکایی و همچنین دیدارها میان واشنگتن نشین ها و اسلام آبادی ها هم بازار تهمت زنی ها گرم بود. در دیدار میان رییس سازمان سیا دیوید پترایوس و رییس آی. اس. آی شجاع پاشا و وزرای امور خارجهٔ دو کشور باز هم همین اتهام ها از سوی امریکاییان مطرح شد. واشنگتن عزم خود را جزم کرده، تا با ابزارهای فشاری که در اختیار دارد، به پاکستانی ها بفهماند که دیگر گروه های مورد حمایت آی. اس. آی نمی توانند، سربازان خارجی را در پاکستان و یا در کشور همسایهٔ افغانستان هدف قرار دهند. این میزان اعمال فشار امریکا بر متحد استراتژیکش در آسیای میانه بی سابقه است. کاخ سفید تاکنون اینگونه مستقیم اسلام آباد را برای مبارزه با گروه حقانی تحت فشار قرار نداده بود. برخی این فشارها را نوعی هشدار دهی مستقیم به پاکستانی ها می دانند که اگر خود مستقیما وارد میدان نشوید، این ما هستیم که می توانیم، در داخل خاک شما دست به عملیات های یکجانبه و بدون اطلاع شما بزنیم.

در نگاهی سطحی به نظر می رسد که این قبیل بیانیه ها به خودی خود واضح است و اندک نیازی به توضیح ندارد. اگر واشنگتن اسنادی در اختیار دارد که اثبات کنندهٔ ارتباط میان آی. اس. آی و گروه حقانی است، دیگر راهی برای سربرگرداندن و بی توجهی به این امر وجود ندارد. بر همین اساس است که امریکاییان برای ادامهٔ کمک های مالی به دولت و ارتش پاکستان احساس دودلی می کنند.

باید گفت، حقیقت این است که شواهد در اختیار امریکا برای اثبات وجود ارتباط میان گروه حقانی و آی. اس. آی پاکستان بسیار اندک است. در جولای سال ۲۰۰۸ هم امریکاییان پس از حمله به سفارت هند در کابل، همین اتهام ها را مطرح کرده بودند. با اینهمه از آن زمان تاکنون بر میزان کمک های واشنگتن به دولت اسلام آباد نه تنها کم نشده، بلکه افزوده هم شده است. این سیاست نشان دهندهٔ خوش بینی امریکاییان به سیاست تشویق یا همان هویج در مقابل استراتیژی تنبیه یا چماق است. در گذشته کاخ سفید نشین ها همواره بیم این را داشته اند که افزایش فشارها بر اسلام آباد می توان تناب نخ نمای ارتباط میان دو کشور را پاره کرده و در نتیجه امریکا را با دردسرهای بیشتری روبه رو کند. امریکاییان همواره به این حقیقت اذعان داشتند که اصلی ترین مسیر برای تامین نیازهای سربازان امریکایی در افغانستان، پاکستان است. امریکاییان همواره بهای عملیات های ضد تروریستی را که در سایه با کمک ها پاکستانی ها انجام دادند، می دانستند. همواره این امیدواری در میان امریکاییان وجود داشت که با حمایت از رهبران نظامی و دولتی در پاکستان می توانند، اندک اندک آنها را در مسیر خود قرار دهند.

دو دلیل عمده را می توان برای تغییر رویکرد امریکا در قبال پاکستان برمی شمرد: میزان نفوذ و تاثیرگذاری نظامی امریکا بر منطقه کاهش یافته است. امریکا تهدیدهایی می کند و هشدارهایی می دهد که در نهایت تاریخ مصرف آنها یک تا دو سال خواهد بود. میزان نفوذ نظامی ناتو در افغانستان هم به حداقل خود رسیده است. بنابراین، اگر زمانی برای تحت فشار قرار دادن گروه حقانی باقی مانده باشد، همین امروز است.

و اما دومین دلیل: امریکا امروز کمتر از هر زمان دیگری از تنش در رابطه با اسلام آباد احساس خطر می کند. راه های ارتباطی منتهی به افغانستان که از کشوری تروریست پرور و دارای تسلیحات هسته یی مانند پاکستان بگذرد، چندان نباید مورد اطمینان امریکاییان باشد. البته امریکاییان باید مراقب مهار تبعات این دوری هم باشند؛ چرا که قرار نیست در چشم بر هم زدنی، تمام دستاوردها بر باد برود.

از سوی دیگر، دلایل اندکی وجود دارد برای اثبات بهبود رابطه میان اسلام اباد و واشنگتن در آیندهٔ نزدیکی. امریکاییان از خود این سوال را می کنند که اگر راهی جز تنگ تر کردن عرصه بر پاکستانی ها باقی نمانده، چرا اکنون که شرایط و دلایل مهیاست این کار را نکنند. البته واشنگتن نشین ها بر اساس سال های متمادی، تجربهٔ عینی به این نتیجه

گیری رسیده اند ص۳

ادامهٔ اتهامات صریح ...

که تنها سخنرانی های کوبنده و بیانیه های تند و تیز نمی تواند، جنرالان پاکستانی را با قوماندانان امریکایی همراه کند. بر همین اساس است که نماینده گان کنگره در بیانیه یی تاکید می کنند که ادامهٔ کمک ها به اسلام آباد، در گرو نابودی گروه حقانی است.

البته پاکستانی ها هم کارت های خود را برای بازی دارند. جنرالان ارتش می توانند، امریکا را به اتهام زنی بدون برخورداری از مدارک مستدل کافی متهم کنند. علاوه بر این، پاکستانی ها می توانند، با بستن مسیر انتقال تجهیزات امریکاییان به نیروهای مستقر در افغانستان، میزان اهمیت این مسیر ترانزیت را به دوستان خود در واشنگتن و اروپا یادآوری کنند.

البته امریکاییان می توانند، در مسیر تلافی این حرکت پاکستانی ها برآیند. به عنوان نمونه می توانند، مسیر انتقال تجهیزات به افغانستان را به روسیه و یا دیگر کشورهای هم مرز افغانستان منتقل کنند.

اما با این همه، گزینه های بسیاری برای تلافی جویی میان امریکا و پاکستان وجود دارد. اما اگر واشنگتن در هرکدام از این مسیرها قرار بگیرد، باید پاسخگوی افکار عمومی در سرزمینی باشد که هنوز اصلی ترین متحد استراتژیک آنها در آسیای میانه است.

بیم دخالت نظامی:

از سوی دیگر، امکان دخالت نظامی امریکا در پاکستان هر روز پر رنگتر می شود.

شبکهٔ روسی با ابراز این مطلب، خاطر نشان کرد، خطر دخالت نظامی امریکا در مسایل داخلی متحدش یعنی پاکستان دیگر امر غیرممکن نیست.

بادرنظرداشت آنچه گفته آمدیم، واشنگتن در این اواخر بار بار به اسلام آباد تفهیم کرد، چنانکه پاکستان روابط خود را با گروه حقانی متوقف نکند، امریکا دست به اقدام نظامی خواهد زد.

با توجه به اظهار نظرهای غیر مستقیم مقامات واشنگتن علیه اسلام آباد صحبت از وقوع عملیات نظامی امریکا در منطقهٔ وزیرستان شمالی پاکستان و پایگاه شبه نظامیان حقانی به میان می آید.

پاکستان همواره ضمن رد این اتهامات از زبان 'حنا ربانی' وزیر امور خارجهٔ خود در دیدار با هیلری کلنتن همتای امریکایی اش در نیویارک تاکید کرد که امریکا باید به انتقادات خود نسبت به پاکستان خاتمه دهد. حنا ربانی همچنین در پاسخ به فشارهای امریکا اخطار داد که اگر امریکا وارد خاک پاکستان شود، متحد خود را از دست خواهد داد.

رحمان مالک وزیر داخلهٔ پاکستان نیز اظهار داشت که این کشور هیچگاه با ورود بیگانگان به سرزمینش موافقت نخواهد کرد.

یوگنی ساتانوفسکی کارشناس مسایل سیاسی در روسیه در خصوص مسایل موجود میان امریکا و پاکستان می گوید: پاکستان کشوری بسیار آسیب پذیر و در زمینهٔ نظامی و اقتصادی به کمک های واشنگتن وابسته است.

وی می افزاید: پاکستان در عین حال، جاه طلبی های بزرگی نیز در سر می پروراند. این جاه طلبی ها در وهلهٔ اول مربوط به گرفتن کنترول افغانستان است. تجسس های پاکستان با حمایت گروه های بی شمار طالبان، نهضت حقانی و اسلام گرایانی همراه است که علیه امریکاییان در افغانستان مبارزه می کنند. اما آنان هیچگاه به سربازان پاکستانی حمله نمی کنند.

به هر حال، اکنون که جنگ لفظی اینک به مرحلهٔ عملی نزدیک شده است، واشنگتن در سال جاری میلادی کمک های نظامی خود را به پاکستان تا ۸۰۰ میلیون دالر کاهش داد.

پیش بینی می شود که بحران میان دو کشور همچنان عمیق تر شود و امکان دخالت نظامی امریکا در پاکستان ظاهرا هر روز پررنگ تر می گردد.

امریکا پر پاکستان د پوځي برید په درشل کې

پاکستان ته د امریکایي چارواکو د پرلپسې خبرداریو په لړ کې د امریکا د سناد پوځي خدمتونو د کمېټي یوه جمهوري غوښتونکي غړي هم خپل خبرداری په ډاګه کړ او ویې وویل، چې که پاکستان په افغانستان کې پر امریکایي ځواکونو د تروریستي حملو ملاتړ ته دوام ورکړي، متحد ایالاتونه دې پر پاکستان د پوځي اقدام په اړه غور وکړي.

سناتور لیندسي ګراهام امریکایي فاکس نیوز ته وویل، چې د یوه مستقل هېواد په توګه پاکستان د متحدو ایالتونو او زمور د متحد افغانستان پر ضد د دښمنۍ په اعمالو کې ښکېل دی او باید دا ډول اعمال پای ته ورسوي. د اسوشتید پریس اژانس د راپور له مخې ګراهام وویل، که کارپوهان دې نتیجې ته ورسیږي چې متحدو ایالتونو ته پکار ده چې د پاکستان پر وړاندې اقدامات زیات کړي، دی پوره ډاډه دی چې د دغسې یوه اقدام به د کانګرس دواړه ګوندونه کلک ملاتړ وکړي.

هغه که څه هم په مشخص ډول د پوځي اقدام غوښتنه ونه کړه، خو ویې ویل چې په ټولو لارو چارو باید غور وشي. د سناد پوځي خدماتو د کمېټي دې غړي دغه راز وویل، متحد ایالتونه باید له پاکستان سره په خپلو مرستو له سره غور وکړي، نور دې پیسې نه ورته بیلوي، بلکې له دې هېواد سره دې تر ډیره په اصولي چوکاټ کې اړیکې وساتي. ګراهام وویل، دوی امریکایي عسکر وژني، او که دوی د خپلې ملي ستراتیژۍ د یوې برخې په توګه د تروریزم ملاتړ ته دوام ورکوي، مور باید د خپلو پوځونو څخه د دفاع په ګډون ټول انتخابونه دمیز پر سر کښیږدو.

د امریکا د ټولو وسلوالو ځواکونو لوی درستیز امیرالبحر مایک مولن تیره اونۍ د سناد پوځي خدمتونو کمېټې ته چې بشاغلی ګراهام یې غړی دی، په یوې استماعیه غونډه کې وویل، د پاکستان د پوځ د استخباراتو اداري ای اېس ای په کابل کې په وروستیو کې د امریکا پر سفارت د حملې او د امریکایي ځواکونو پر اډې بم چاودنه کې چې ۷۷ امریکایي عسکر ټپیان شول، له سخت دریځو وسلوالو سره د دغو حملو په پلان او عملي کولو کې مرسته کړې ده.

مولن وویل، د حقاني شبکه په حقیقت کې د پاکستان د ای اېس ای د یوې څانګې په توګه فعالیت کوي. مولن وویل، پاکستان افغانستان ته خشونت صادروي او په دې هېواد کې هره بریا چې په لس کلنه جګړه کې ترلاسه شوې، له خطر سره مخامخ کوي.

د سناد پوځي خدمتونو د کمېټې غړي بشاغلي ګراهام وویل، پاکستان که څه هم د القاعده پر وړاندې مبارزه کې له متحدو ایالتونو سره همکاري کوي خو د پاکستان پوځ په افغانستان کې ډیموکراسي د ځان لپاره یو ګواښ بولي او پر طالبانو داسې حساب کوي چې ګواکې دوی به بهرته واک ته ورسېږي. ګراهام وویل، د پاکستان لپاره تر ټولو غوره لار دا ده چې د تروریزم د ټولو ډولونو پر وړاندې مبارزه وکړي، له مور سره له اخلاصه کار وکړي څو وکولای شو د پولې په اوږدو کې تروریزم چې ثبات یې له جدي خطر سره مخ کړی، له منځه یوسو، خو ګراهام زیاته کړه، پاکستان په خپله تروریزم په غیره نیولی او په خپلو حسابونو کې یې زښتې زیاتې تیروتنې کړې دي.

له قانون څخه د ملاتړ ایتلاف د اعتراضونو دوام، تر کله!؟

په ولسي جرګې کې له قانون څخه د ملاتړ ایتلاف چې له تېرو دریو اونیو راهیسې یې د دې جرګې عمومي غونډې تحریم کړي لا هم په خپل دریځ ولاړ دي او وایي چې خپل اعتراض ته به دوام ورکوي.

ولسي جرګې ته د د دې ایتلاف غړو د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون له دې کار څخه په ټینګه انتقاد وکړ او ویې ویل چې حکومت له دې کار سره پر ولسي جرګې خپل زور وازمایه.

خو د ولسي جرګې ځینې نور غړي هیله ښیي چې په دې جرګې کې روانې



وکیلانو په توګه د نهو تنو معترضو کاندیدانو له معرفي کېدو نه وروسته له قانون څخه د ملاتړ ایتلاف دا جرګه نا مشروع بولي او وایي، چې حکومت خپلې غوښتنې پر دوی د زور له لارې تحمیل کړي دي.

د دې ایتلاف یوه تن غړي محمد نعیم حمیدزي لالي د دوشنبې پر ورځ خبریالانو ته وویل، ترڅو د دوی غوښتنې ونه منل شي خپلو اعتراضونو ته به دوام ورکړي: "په غیر قانوني توګه د وکیلانو راوستل ولسي جرګې ته د باور رایې لپاره د وزیرانو او قضایه قوې د غړو او لوی څارنوال نه معرفي کول دا ټول غیر قانوني کارونه دي.

مور به ترهغه وخته په دې غونډو کې برخه وانه خلو، چې دا غیر قانوني کارونه پای ته نه وي رسیدلي".

د انتخاباتو خپلواک کمېسیون د ولسي جرګې نهه تنه غړي د درغلیو په تور په دې جرګې کې د وکالت له حق څخه محروم او د هغوی پرځای یې نهه تنه معترضه کاندیدان دې جرګې ته معرفي کړل، له هماغې ورځې راهیسې له قانون څخه د ملاتړ ایتلاف د اعتراض په توګه د ولسي جرګې غونډې تحریم کړې.

ستونزې ژر هوارې او وکیلان خپل کارونه په منظم ډول پرمخ بوځي.

د ولسي جرګې غړی جعفرمهدوي هم ورته نظر لري او وایي، چې له قانون څخه د ملاتړ ایتلاف ډېر شمېر غړو منلې چې د دې جرګې په غونډو کې به ګډون کوي: "هغه وکیلان چې له قانون څخه د ملاتړ په نامه د ایتلاف ترچت لاندې را ټول شوي له اصلاح غوښتونکو سره یې خبرې پیل کړي.

یو شمېر یې راغلي او اعتراض یې پای ته رسولی او یو شمېر یې چې په سفر کې دي او بیرته راشي له نورو سره یوځای اول د دې جرګې په راتلونکې او که نه د راتلونکې شنبې په غونډه کې به برخه واخلي".

سره له دې چې د ولسي جرګې له پرانېستلو څخه کابو اته میاشتې تېرېږي خو ویل کېږي چې د تېر کال د انتخاباتو پر سر را پورته شوې شخړې د دې لامل ګرځیدلي چې ولسي جرګه ونه توانېږي خپل کارونه سم پرمخ بوځي.

که څه هم د دې ستونزو د حل لپاره جدي هڅې روانې دي خو لا تر اوسه هم نه ده روښانه چې دا جنجالونه په څه وخت پای ته ورسېږي.

دوه بهرني سرتېري ووژل شول

د ناټو په مشرۍ نړیوالو سولې ساتو ځواکونو (ایساف) د افغانستان په وردګ ولایت کې د خپلو دوو سرتېرو د وژل کېدو خبر ورکړ. دغه خبر په کابل کې د ایساف ځواکونو د مطبوعاتي دفتر له خوا د تلې پر ۴ مه، په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې ورکړل شوی دی. سرچینې زیاته کړې، چې دغه سرتېري وړمه ورځ د افغانستان په ختیځ کې د بېلو چاودنو په ترڅ کې وژل شوي دي. د ایساف خبرپاڼې دوژل شویو سرتېرو هویت او د پېښو کره ځای نه دی په ګوته کړی. خو طالب ویاند ذبیح الله مجاهد بیا ادعا کوي، چې دوی وړمه ورځ د میدان وردګو د سیدآباد ولسوالۍ په شیخ اباد سیمه کې پر یوه ټانک برید کړی او ادعا یې کړې ده چې د ایساف سرتېري یې وژلي دي. د سیدآباد ولسوال ډاکټر مسلم پژواک ته وویل، چې د بهرنیو ځواکونو پر ټانک په شوي برید کې یو امریکایي سرتېری وژل شوی او درې نور ټپیان دي. ډاکټر مسلم زیاته کړه، چې امریکایانو د دغه برید په ترڅ کې یو تن نیولی دی. د روان لمریز کال له پیله راهیسې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د ایساف ۴۵۴ سرتېري وژل شوي، چې یوازې ۳۴۰ یې امریکایي دي.

د ربانی شهادت د افغانستان او...

په خبرپاڼه کې راغلي:

پروفیسور برهان الدین ربانی د پاکستان یو نژدې ملګری و. زمور اړیکې له پروفیسور برهان الدین ربانی سره هغه وخت پیدا شوې، کله چې نومورې له نورو جهادي رهبرانو سره یوځای د پخوانی شوروي اتحاد دیرغل پر وړاندې پر مبارزه پیل وکړ. د جهاد په هغو کلونو کې چې پاکستاني ملت له افغانانو سره ثابته همکاري کوله، تر څو خارجي ښکېلاک ته ماتې ورکړي، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اسلامي ورورولۍ ستر پرا و پیل شو. د پاکستان سفیر زیاته کړې، سولې د عالي شورا د مشر په حیث، هغه د پاکستان له حکومت سره په یو ګډ کمېسیون کې افغانستان ته د سولې او ثبات د راوستو ژمنه وکړه، کوم چې د درېیو لسیزو را په دې خوا د بهر نیولې لاسه په افغانستان کې جریان لري. د پاکستاني مشر تابه سره د هغه په وروستي ملاقات کې، دواړه خواوې دې پرېکړې ته ورسېدې، چې سوله او ثبات د پاکستان او افغانستان په ډنډه کې اړیکې لري، نو د دې حیاتي موضوع لپاره باید دوه اړخیزه همکاري پراخه کړو او خپل ګډ اهداف باید تعقیب کړو. د پاکستان سفیر څرګنده کړې، چې د پروفیسور برهان الدین ربانې شهادت د پاکستان لپاره یوه ستره ضایعه ده. د نومورې ظالمانه وژنه د هغو قوتونو پر غاړه ده، کوم چې په افغانستان او سیمه کې له سولې سره مخالفت لري. د غه مضر قوتونه د افغانستان او پاکستان دواړو دښمنان دي.

د پاکستان کورنۍ ستونزې لندن ته د هغه هېواد د لوی درستیز د سفر خنډ شوې

د بریتانیا د دفاع وزارت وایي د پاکستان د لوی درستیز اشفاق کیاني دغه هېواد ته خپل سفر لغو کړ، کیاني لندن ته خپل سفر په داسې حال کې لغو کوي، چې د امریکا له لوري پر پاکستان تورونه لګول شوي، چې پوځي اداره یې د حقاني شبکې ملاتړ کوي، دغه بیا په دې تورنه ده، چې په افغانستان کې یې د امریکا پر اهدافو حملې کړې دي.

د بریتانیا د دفاع وزارت چارواکو د اشفاق کیاني د سفر د لغو کېدو پر علتونو زیاتې څرګندونې ونه کړې. مخکې اعلان شوی و، چې کیاني به په شخصي ډول د بریتانیا له دفاع وزیر لیام فاکس سره د سپتمبر پر ۲۶ مه وګوري.

د امریکا د ګډو ځواکونو لوی درستیز امیرالبحر مایک مولین تېره اوونۍ د پاکستان استخباراتي اداره ISI تورنه کړه، چې حقاني شبکې یې په مرسته په کابل کې د امریکا پر سفارت برید وکړ، دغه برید د سپتمبر پر ۱۳مه شوی و، د دې تر څنګ حقاني شبکه په میدان وردګ کې هم د ناټو پر یوه پوځي اډه په برید تورنه شوې ده.

د پاکستان او امریکا ترمنځ اړیکې په بهساري ډول کړکېچنې شوې دي. د پاکستان د کورنیو چارو وزیر وړمه ورځ وویل چې امریکا حقاني شبکه جوړه کړې او روزلې ده، او اوس پاکستان ملامتوي. بله خوا ځینو نورو پاکستاني چارواکو ویلي، چې دوی به د حقاني شبکې پر وړاندې اقدام ونه کړي.

د داوطلبۍ وړاندیز

په افغانستان کې له راجستر شویو کمپنیو څخه په کارته پروان کې د پاکستان سفارت په انګړ کې د لاندې چارو د پر غاړه اخیستلو وړاندیز منل کېږي:

الف: د انګړ د دېوالونو ټینګښت او استحکام.

ب: د انګړ د دېوالونو پر سر دوه پوښه اغزن سیم بندول.

ج: د ودانۍ د دوو مخکښو دروازو پر وړاندې د کانکرېټي او چاودنو ضد موانعو ځای پر ځای کول.

۱ – هغه کمپنۍ چې لېوالتیا لري، خپل کوټېشن دې د دې اعلان تر خپرېدو وروسته د ۱۵ ورځو په لړ کې وړاندې کړي.

۲ – لېوالتیالرونکې کمپنۍ کولی شي، د اړوندې ودانۍ د کار دساحې او کاري دروازو د لیدنې په موخه د سهار له ۹ د ماسپښین تر ۳ بجو پورې هغه ځای ته تشریف یوسي.

۳ – وړاندیزونه د روان زېردي کال د اکتوبر د میاشتې پر ۱۱ نېټه پر یوولسو بجو د پاکستان په سفارت کې، د وزیراکبرخان د نجات واټ سړک په ۱۰ شمېره کور کې منل کېږي.

٤ – د سفارت اړوند مسوول له کوم دلیل پرته د ټولو او یا بل هر یو وړاندیز د رد حق لري.

محمد بشیر
د تحریراتو رییس
د پاکستان سفارت – کابل
۲۰۱۱ کال، د سپتمبر ۲۵ مه
ګرځنده شمېره: ۰۷۸۶۰۵۳۱۳۲

معیار های بین المللی حقوق بشر برای تطبیق قوانین

عدم تبعیض در تطبیق قوانین: همه افراد بشر با کرامت و حقوق مساوی به دنیا آمده اند.

حقوق بشر از کرامت ذاتی فرد بشر سرچشمه می گیرد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: – ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: – ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: – ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجنیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سړک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com